مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۲/۰۲

# سپین سهار

په تیارو پسي همیش ګوره رڼا وي
توره شپه کې ځرک ښکاره تل د سبأ وي
کوم ویاله کې چې یوځل اوبه وي تللي
بهیدل د اوبو بیا پکې بیا بیا وي
چي خدمت د کلي کور يې پيشه کړی
هغه کس د لوی واړه زړه کې بابا وي
څو چې خوږ نسي نو پوه به په خوږ نسي
هر یو خوږ ته د طبیب لاس کې دوا وي
چې دښمن نه وي صفت د دښمن څه دی
د مصلح سړي دښمن تولَه دنيا وي
په سختیو باندي صبر دی راغلی
چې سختي نه وي دصبر څه معنا وي
د ښمن مقابله وسي په صبر
د ښمن ځخه ګیله لار د خطأ وي
ناهیلي د مسلمان سره نه ښايي
ناهیلي دين او دنیا لره بلا وي
که بي علم پر دریځ ولاړ وي تر ماښامه
د نادان د وعظ اغیز کله په چا وي
د فرعون هامان لښکري چیري لاړل
انتها د هر باطل اخیر فنأ وي
څوک چې کاندي د اوبو په وړاندي لوبه
ځان به غرق کأ ځکه اخستی وارخطأ وي
نومیر ولید سپین سهار پسله تورتمه
خدای دي وکأ د تورتم دا انتها وي

۲۰ - اکتوبر - ۲۰۲۱
متحده ایالات ، کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٰ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خير و لولئ